## مطبوعاتي اعلاميه

د حزب التحرير د دعوتګر «حميد الرحمن شريفي» د شهادت تسليت وايو!

د روان کال د زمري په ۱۷مه نېټه د کندز په جګړه کې د يوه هاوان د لګېدلو له امله د حزب التحرير غړی حميد الرحمن شريفي په شهادت ورسېد.

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ!

شريفي د اقتصاد له پوهنځي فارغ او د حزب التحرير فعال غړی و. نوموړي تل هڅې کولې چې د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بيا تاسيس لپاره له اخلاصه ډکې قرباني ورکړي. الله سبحانه وتعالی دې د شهادت په خپل دربار کې قبول او نوموړي ته د اسلام د لومړنيو شهيدانو مقام ور په برخه کړي.
د افغانستان روانه جګړه د امريکا د شل کلن ښکېلاک پايله ده، چې د «تروريزم» پر وړاندې د جګړې په نامه يې د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې پيل کړه. له همدې امله په افغانستان کې د امريکا نيت او ستراتيژي له پيله د ټيکاو او سولې راوستل نه وو، بلکې د اسلام او مسلمانانو د ځپلو لپاره يې پر دغه خاوره يرغل وکړ.
له شک پرته چې امريکا د ميلياردونو ډالرو د لګولو سربېره هم په افغانستان کې ماتې وخوړه، له همدې امله له بوش نېولې تر اوباما او له ټرامپ نېولې تر جوبايډن پورې سخت ځورېږي. د سوريې، عراق، يمن او لېبيا غوندې د افغانستان په هر سړک او کوڅه کې د جګړې لمبې د بې ثباتۍ لپاره د امريکا نيت څرګندوي. هغه کسان چې تېر شل کلونه يې په امريکا اعتماد وکړ او اوس هم تمه کوي چې امريکا به د مرستې لاس ورکړي، له ښکېلاکګرو سره د ملګرتيا پايله يې بايد اوس درک کړې وي، چې د خلکو پر برخليک څه کوي. ښکېلاک نه يوازې دا چې جګړه او ناامني کمه نه کړه، بلکې فساد، بې وزلي، بې کاري، کډوالي او تر ټولو مهمه دا چې د غربي ارزښتونو ترويج يې ډېر کړ.
الوتکو له بمبار سره هره ورځ لسګونه B-52 اوسمهال د جګړې د زياتوالي او همدارنګه د امريکا د او حتا سلګونه ملکي خلک مړه او زخميان کېږي. سربېره پر دې ډلې ډلې خلک له خپلو کورونو بې ځايه کېږي.
پر همدې بنسټ؛ د افغانستان سياسي مشران، متنفذين او علماء بايد د امريکا او غرب شل کلن ښکېلاک، وژنې او جنايتونه په ياد ولري او د دوی او د دوی د لاسپوڅو پر وړاندې بايد ودرېږي، څو د غرب دا فاسد نظام له جګړې، ظلم او بدبختيو سره يوځای له موږ څخه کډه شي. د همدې لپاره د حزب التحرير له دعوتګرانو سره د نبوت پر منهج د خلافت د نظام د جوړولو لپاره لاس په کار شئ. هغه نظام چې د الله سبحانه وتعالی د خوشالۍ او د خلکو د ځانونو، مالونو او مقدساتو د ساتنې سبب کيږي. لکه څنګه چې حميد الرحمن شريفي هم له هغو کسانو څخه و، چې همدغې موخې ته يې دعوت کاوه او د همدغو دعوتګرو د سربښندونو پايله ده چې نن د افغانستان په ګوټ ګوټ کې زرګونه کسان د اسلامي ژوند د بيا راتګ لپاره کار کوي.

**مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ ۖ فَمِنْهُم مَّن قَضَىٰ نَحْبَهُ وَمِنْهُم مَّن يَنتَظِرُ ۖ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا [احزاب: 23]**

*په مومنانو کې داسې سړي دي، چې له الله سبحانه وتعالی سره په خپلو کړيو ژمنو کې رېښتيني دي، ځينو خپلې ژمنې پوره کړلې (د شهادت شربت يې وڅښل) او ځينې نور منتظر دي او دوی په*

*خپلو ژمنو کې هېڅ بدلون نه دی راوستلی.*
د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر